SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

څلورم کال دري څلويښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۳) چهارشنبه د ۱۴۲۰هـ ق کال د ربيع الاول (۲)د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرګولي دمياشتي(۲۶)د۱۹۹۹ميلادي کال د جون (۱۶)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !. همدا (عدل) ډېرنږدي دی تقوا(پرهيزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

ان شاء الله ډېر ژر به د خپل مستقل نړيوال کود لمبر له لاري له بهرني نړي سره تيلفوني ارتباط ټينګ کړو

شريعت : د افغانستان نړيوال تيلفوني کود لمبر چي د تيرو شپږو اوو کلونو را هيسي له کاره پاتي شوي و د مخابراتو وزارت د مسؤلينو د هلو ځلو په نتيجه کي بيو ځل بيا فعال او ان شاء الله ډېر ژر به زموږ هيواد وال وکولاي شي چي دخپل مستقل نړيوال تيلفوني کود لمبر له لاري له بهرني نړي سره اړيکي ټينګ کړي، دغه کود لمبر چي د مخابراتو وزارت د انجنيرانو او د TSI امريکايي کمپني د ګډو هلو ځلو په نتيجه کي دو باره د ګټي اخيستلو وړ ګرځيدلي زموږ د هيواد والو ډېري ستونزي به هواري کړي دا ځکه چي د ستلايت په ذريعه له بهرني نړي سره تيلفوني ارتباط ټينګول ډېر قيمته تماميږي .

همدارنګه د ستلايت تيلفون لينونه هم محدود دي چي هر څوک هر وخت ترينه کار [illegible] اخيستني د باوري وړ ده چي د مخابراتو وزارت تېر کال له TSI امريکايي کمپني سره يوه لوظنامه لاسليک کړي وه چي د هغي په ترڅ کي به ترموري کمپاين زموږ په هيواد کي دري لکه موبايل يا ګرځنده تيلفونونه فعالوي او ددي تر څنګ به زموږ د هيواد د تيلفون پخواني سيستم هم فعاله او له نړي سره به يې وصل کړي چي په هندي اساس اوس اوس د دغي ۴ مخ

: د شهيدانو او مهاجرينو چارو وزارت د پلان او بهرنيو اړيکو رئيس محترم ملا شيرين «احمدزي» له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

هره مياشت ۲۵۰۰ مهاجرو او ۸۰۰ د کابل ښار اوسيدونکو مستحقو کورنيو ته خوراکي مواد ورکوو

له ټولو اسلامي هيوادونو، مسلمانو او نړيوالو ټولنو څخه هيله کوو چي زموږ د هيواد له بيوزلو سره خپلي مرستي جاري وساتي

پوښتنه : د شهيدانو او مهاجرينو چارو وزارت د تشکيلاتو په هکله څه معلومات راکړئ ؟

ځواب : د شهيدانو او مهاجرينو د [illegible] چارو لوی رياست او د مهاجرينو د [illegible] چارو لوی رياست په ۱۹۹۶ کي د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان په [illegible]

سرپرست محترم وزارت پلان با مسؤول پروګرام غذايي جهان ملاقات نمود

محترم قاري دين محمد «حنيف» سرپرست وزارت پلان قبل از ظهر ديروز با مسؤول دفتر پروګرام غذايي جهان در کابل ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در اين ملاقات ضمن آنکه روي مسايل مورد علاقه بحث و تبادل نظر بعمل آمد روي بهتر شدن کميت و کيفيت نان پخته که در مقابل کارت به همشهريان کابل توزيع ميګردد صحبت صورت ګرفت .

همچنان تاکيد بعمل آمد که تا به خاطر جلوګيري از سؤ ص ۴

بعد از اصدار فيصله محاکم ثلاثه و تائيد عاليقدر امير المؤمنين :

حکم الهي قصاص بالاي يکتن قاتل تطبيق ګرديد

حکم الهي قصاص بالاي يکتن قاتل بعد از اصدار فيصله محاکم ثلاثه و تائيد عاليقدر امير المؤمنين در محضر عام در مرکز شهر فراه تطبيق ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : ضياء الدين ولد شيرين مسکونه ولسوالي بالا بلوک ولايت فراه که چندي قبل محمد قاسم ولد دين محمد باشنده آن ولسوالي را به قتل رسانيده بود توسط منظوقين امنيتي آنولايت دستګير ګرديده و قاتل در جريان تحقيقات به جرم خويش اعتراف نموده و قضيه محاکم ثلاثه مرافعه ۴ مخ

د کابل د طب انستيتوت څلور پوهنځي او پنځه روغتونونه لري

د طب انستيتوت د ودانيو د بيا رغوني کار پر مخ روان دي

محترم مولوي محمد فاضل د کابل د طب انستيتوت رئيس

قدرمنو لوستونکو د هيواد د تعليمي ادارو د فعاليت په هکله ستاسي د معلوماتو د زياتوالي په خاطر زموږ خبريال د کابل د طب انستيتوت څخه کتنه کړي او ددغه انستيتوت له رئيس محترم مولوي محمد فاضل سره يې يو لړ خبري اتري هم کړي چي دا دي د طب انستيتوت د محترم رئيس څرګندوني په لنډه توګه تاسي ته وړاندي کوو :

د کابل طب انستيتوت ۶۷ کاله وړاندي د طب پوهنځي په نوم تأسيس شوي دي فعلاً د طب انستيتوت عمومي رياست ۳ معاونيتونه ، علمي معاونيت، د محصلانو معاونيت، اداري معاونيت، او پنځه رياستونه لري چي دا دي : رياست پوهنځي طب معالجوي، رياست پوهنځي طب اطفال ، رياست پوهنځي طب ستوماتولوژي ، رياست اکمال تخصص، رياست تحقيقات علمي. چي په پورته درېو پوهنځيو کي ۳۰۰۰ تنه محصلين زده کړه کوي.

نادرشاه روغتون، رفيقي ۳ مخ

د تورخم د امنيتي مسؤولينو لخوا :

يو لرغوني اثر چي بهرته ليږدول کيده ونيول شو

تورخم : يو لرغوني نقاشي اثر چي د يوه تن قاچاق وړونکي لخوا له هيواد څخه بهرته ليږدول کيده د تورخم د امنيتي مسؤولينو لخوا ونيول شو زموږ خبريال په دي هکله دامي خبر راکوي يو تن چي سيد علي نوميده او غوښتل يې يو لرغوني منقوش اثر له هيواد څخه پيښور ته وليږدوي د تورخم په سرحد کي نيول شوي دي نوموړي ته له افغانستان څخه پيښور ته د ۴ مخ

سرکهاي بازار جاني خيل ولايت پکتيکا ترميم ګرديد

سرکهاي داخل بازار ولسوالي جاني خيل ولايت پکتيکا که قبلاً تخريب ګرديده بود اخيراً بالأثر توجه ښاروالي آن ولسوالي ترميم و جلله الدّازي ګرديده است .

خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر شرن خبر ص ۴

دستګاه مخابره ريلي ولايت سرپل و بي سيم ولسوالي آقچه مجدداً فعال ګرديد

دستګاه مخابره ريلي ولايت سرپل و بي سيم ولسوالي آقچه ولايت جوزجان دو باره فعال و مورد استفاده قرار ګرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : دستګاه مخابره ريلي ولايت سرپل و بي سيم ولسوالي آقچه ولايت جوزجان که از اثر حوادث ناګوار ګذشته از فعاليت باز مانده بود اخيراً از اثر سعي و تلاش انجنيران و منسوبين مخابرات آنولايت دوباره فعال و مورد استفاده قرار ګرفت . ص ۴

پوليکلنيک شفاخانه ملکي ولايت بغلان دو باره اعمار ګرديد

پوليکلنيک شفاخانه ملکي رياست صحت عامه ولايت بغلان اخيراً دو باره اعمار و مورد استفاده مردم قرار ګرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفليکه به همين مناسبت در رياست صحت عامه ولايت بغلان ترتيب يافته بود محترم ملا جان محمد رئيس صحت عامه ولايت بغلان ضمن باد دهاني از توجهات امارت اسلامي در عرصه صحت عامه ص ۴

محترم پوهاند استاد پير محمد «صديقي» داعي اجل را لبيک ګفت

با تأسف اطلاع حاصل نموديم که محترم پوهاند پير محمد «صديقي» يکتن از استادان سابقه دار پوهنځي زراعت پوهنتون کابل به اثر مريضي که داشت حالش برد به عمر ۶۴ سالګي اخيراً داعي اجل را لبيک ګفته است.

انا لله و انا اليه راجعون .

مرحوم پوهاند پير محمد صديقي که عمري را در [illegible] اولاد وطن به سر برد و خدمات ارزنده [illegible] در اين راستا انجام داده هيات رهبري [illegible] تحصيلات عالي و پوهنتون کابل به ويژه استادان کارمندان و محصلين پوهنځي زراعت وفات مرحوم صديقي را ضايعه بزرګي دانسته براي مرحومي مغفرت و براي خانواده مرحومي از خداوند بزرګ صبر جميل استدعا دارند.

بمنظور جلوګيري از مرض ملاريا :

در شهر جلال آباد پشه خانه هاي ضد پشه ملاريا توزيع ګرديد

جلال آباد : بمنظور جلوګيري از مرض ملاريا به تعداد هزار ها پرده پشه خانه ضد پشه ملاريا به اهالي متدين شهر جلال آباد توزيع و عرضه ګرديده است .

خبرنګار ما در اين رابطه ګزارش ميدهد : از طريق ۹۰ مرکز توزيع و فروش پشه خانه هاي ضد پشه ص ۴

به همکاري مؤسسه هبيتات :

عنقريب مراکز خدمات اجتماعي در شهر کابل ايجاد خواهد ګرديد

در ملاقاتي که ديروز محترم مخدوم عبدالسلام سعادت رئيس کار و امور اجتماعي با مسؤول دفتر مرکزي مؤسسه هبيتات در کابل داشت روي ايجاد مراکز خدمات اجتماعي در محلات مختلف شهر کابل صحبت بعمل آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : محترم رئيس عمومي کار و امور اجتماعي ديروز طي ملاقات که با مسؤول دفتر مرکزي موسسه هبيتات انجام داد ضمن بحث پيرامون موضوعات مورد علاقه روي ايجاد مراکز خدمات ص ۴

د کندهار په ښار کي د بيا جوړوني پروګرامونه په چټکتيا سره پر مخ روان دي

کندهار : د کندهار ښار د سرکونو او ودانيو د بيا جوړولو کار په چټکتيا سره پر مخ روان دي د کندهار له ښار څخه زموږ خبريال خبر راکوي : د کندهار ښار د سرکونو او ودانيو د بيا جوړولو کار چي د تيرو رژيمونو د جګړو له کبله زيانمن شوي وو د هغه ولايت د فوايد عامي رياست او ښاروالي د ګډو هلو ځلو په نتيجه کي په چټکتيا سره پر مخ روان دي په دي ترڅ کي د ښار د ننه سرکونه بيا قير او پاخه شوي، د مدد له چوک څخه تر قلعه چي پوري سرک په پخه توګه ودان شوي، همدارنګه د ښار لويديځ او ختيځي خوانه پاته سرکونه هم قير شوي دي ، ددي تر څنګ د ښار د ودانيو د بيا جوړولو کار هم په چټکتيا سره روان دی زيانره امارتي ودانۍ بيا [illegible] ترميم شوي او د بري انه پوري ودانۍ کار هم پر مخ روان دي په دغه نوي ودانۍ کي به يوه عصري تجارتي ساحه او په ملکونو دکانونه هم موجود وي .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

جهانيان بايد امارت اسلامي افغانستان را در مبارزه عليه مواد مخدر تنها نګذارند

مواد مخدر که افيون با زهر ملتها نيز ناميده ميشود از ابتداي پيدايش آن با آنکه از جانب بعضي از اقشار جوامع بشري به عناوين و مقاصد مختلف مورد استعمال قرار ګرفته از همان آوان مورد نفرت و انزجار بشريت واقع ګرديده و اثرات مضره اش بر مزاياي اندک آن مورد توجه بوده است، بنا بر اين ملحوظ مبارزه به خاطر نجات نوع انسان از اين مصيبت از ساليان قبل آغاز يافته و تا امروز ادامه دارد ، دين مقدس اسلام که ناجي واقعي بشريت از همه مصايب و خطرات مي باشد به اين ماده مضره به نظر نفرت نګريسته و آنرا کاملاً مردود شمرده است همچنان در اين ضمن مسلمانان را به پرهيز قطعي از استعمال آن توصيه فرموده و آنها را از خطرات آن آګاه ساخته است .

در ساليان اخير در نتيجه ترويج استفاده هاي ناجايز از اين ماده و ص ۲

يکتن از ترينران بوکس به کسب سند ماستري نايل ګرديد

براي يکتن از ترينران بوکسينګ ديروز سند ماستري سپورتي توزيع ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفليکه به همين مناسبت تدوير يافته بود سکرتر جنرال رياست کميته المپيک در رابطه به نقش و اهميت ورزش در ص ۴

سنګ تهداب کلينيک صحي ولسوالي تګاب ګذاشته شد

يک باب کلينيک صحي جديداً در مربوطات ولسوالي تګاب اعمار ميګردد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : سنګ تهداب اين کلينيک که به همکاري کميته سويدن و اهالي آنجا از طرف وزارت صحت عامه به شکل پخته و اساسي در منطقه قورغل ولسوالي تګاب اعمار ميګردد اخيراً توسط محترم ص ۴

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پیښور کې : دطالبانو نمایندگۍ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤-۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

دست داشتن گروه هاي بین المللي قاچاق چي و مافیایي در زمینه سازي براي تولید و استعمال آن، مسئله استعمال مواد مخدر شکل یك معضله بین المللي را به خود گرفته و اکنون در چوکات سازمان ملل متحد اداره مستقلي غرض مبارزه با این مصیبت تأسیس گردیده است .

در کشور عزیز ما افغانستان نیز طي دو سه دهه اخیر بنا بر ضعف اقتصادي و عدم وسایل و امکانات دریافت نیازمندي هاي اولي مردم، بعضي از دهاقین در برخي از مناطق کشور دست به کشت مواد مخدر زده اند که پدیده جدید نبوده و سابقه چندین ساله دارد . امارت اسلامي افغانستان بعد از پیروزي و استحکام خویش در پهلوي سایر اقدامات انسان دوستانه و خیر خواهانه اسلامي خویش مبارزه علیه مواد مخدر را نیز از اولویت هاي اجراآت خویش محسوب نموده و تا حد امکان در این راستا اقدامات عملي نموده است، کمیسیون امارتي مبارزه **علیه مواد مخدر را بنیان گذاشت تا از این طریق فعالیت هاي متداوم خویش را در راه مبارزه با مواد مخدر شکل عملي بخشیده و در این مبارزه جهاني سهیم گردد .**

کمیسیون امارتي مبارزه علیه مواد مخدر از بدو تاسیس خویش منحیث حلقه ارتباطي بین جامعه جهاني و دهاقین مستضعفي که از طریق کشت تریاك نیازمندیهاي شانرا مرفوع میشمایند رول بازي نموده و اکنون نیز در این عرصه مصروف خدمت است، در این ضمن از یك جانب دهاقین کشور را از خطرات بعدي و اثرات مضره مواد مخدر در مستقبل آگاه ساخته و آنها را تشویق نموده تا عوض کشت مواد مخدر به زرع مواد دیگر ضروري مبادرت ورزیده و نسل بشري را از شر این مصیبت نجات دهند، از جانب دیگر کمیسیون امارتي مبارزه علیه مواد مخدر همواره تلاش ورزیده تا سازمان ملل متحد و غیره مجامع بین المللي را به قبول این حقیقت متقاعد سازد که ملت مسلمان افغانستان به هیچ صورت خواهان تداوم کشت مواد مخدر در افغانستان نبوده و آرزو ندارند تا از جانب افغانان، جهانیان به مصایب دچار گردند ؛ اما محرومیت هاي اقتصادي ناشي از وضع سیاسي ناهنجار دو سه دهه اخیر، و نیازمندیهاي اولیه زندگي چون عدم کار و پیشه ، نظام تعلیم، سهولت هاي صحي و اجتماعي و غیره مشکلات بعضي افغانان را مجبور ساخته تا به کشت مواد مخدر در بعضي از نقاط کشور مجبور گردند، گرچه امارت اسلامي افغانستان تا حد توان و در محدوده امکانات خویش تلاش ورزیده تا مشکلات و نیازمندیهاي مبرم و اساسي دهاقین کشور را مرفوع ساخته و آنها را کاملاً از این راستا باز دارد، اما بازهم بنا بر مشکلات فراوان اقتصادي میراث از رژیم هاي قبلي امارت اسلامي نیز در این مقصد خویش صد فیصد مؤفق بدر نه آمده است، با وجود این همه مشکلات بنا بر حمایت و احترام عمیق ملت مجاهد ما به مشي اسلامي و انسان دوستانه امارت اسلامي خویش اکثریت دهاقین کشور حاضر گردیده اند تا از کشت تریاك دست بکشند چنانچه چندي قبل چندین کارخانه تولید مواد مخدر در ولایت ننگرهار از بین رفته وکشت هاي تریاك در چند ولسوالي ولایت کندهار از بین برده شد که مسؤول اداره کنترول مواد مخدر سازمان ملل متحد نیز با توجه به حقایق و اقدامات **عملي امارت اسلامي افغانستان ، فعالیت هاي امارت اسلامي افغانستان را در راه محو مواد مخدر در افغانستان تصدیق نموده و آنرا قابل ستایش پنداشته است .**

امارت اسلامي افغانستان با تصمیم قاطع و خلل ناپذیر در راه نابودي مواد مخدر در کشور و جهان با جهانیان همکار و باور بوده و با اخلاص و جدیت کامل در راه رسیدن به آرمان «جهان پاك از مخدرات» به فعالیت هاي خویش ادامه میدهد چنانچه همین اکنون هیئتي به ریاست رئیس محترم کمسیون امارتي مبازه علیه مواد مخدر به کشور امارت متحده عربي سفر نموده تا مقامات آن کشور را به اشتراك در مبارزه علیه مواد مخدر در افغانستان تشویق نموده و مساعدتهاي آن کشور را بدینمنظور جلب نماید.

تلاش هاي امارت اسلامي در این عرصه ان شآء اللّٰه روز بروز جدي تر و سریعتر خواهد شد و به جهانیان اطمینان میدهیم که امارت اسلامي افغانستان نظر به هر کشور دیگر خواهان جهان پاك از مخدرات میباشد، با توجه به این هدف سترگ لازم است تا سازمان ملل متحد و کشور هاي جهان به اقدامات عملي و خیر خواهانه امارت اسلامي افغانستان در زمینه ارج گذاشته و از کمك هاي همه جانبه خویش در این راه دریغ نورزند به یقین گفته میتوانیم که همکاري و مساعدتهاي جهانیان و قاطعیت امارت اسلامي افغانستان در این راستا ، تابوت مواد مخدر را از افغانستان کشیده میتواند!!

د انساني اړتیا و په وړاندې د اسلام دریځ

اسلام یو واقعي، رښتوني او فطري دین دي هغه د انساني ژوند په هره برخه د تطبیق جوگه دي . اسلام، انسان د ژوند په هر ډگر او هره شیبه کې د ځان په وړاندې مسؤول بولي او انسانان هم باید اسلام د یو هر اړخیز دین په توگه د ژوند په هره برخه کې عملي کړي. کله مو چې د اسلام د هر اړخیز والي «جامعیت» او «فطري توب» خبره وکړه نو معنی دا شوه چې اسلام هم باید د انسان ټولو فطري غوښتنو او اړتیاو ته مثبت ځواب ورکړي هغو غوښتنو ته چې الله «ج» په خپله د انسان په بیعت او فطرت کې نغښتي دي. هو. همداسې ده اسلام د ټول انسان سره چلند کوي هغه د انسان له روح سره هم معامله کوي، د انسان د بدن له غوښتنو هم سترگې نه پټوي ، عقل او وجدان سره هم معامله کوي اسلام د انسان ټولې فطري او معقولې غوښتنې په نظر کې نیولې دي، اسلام له انسان نه غواړي چې جسم یا بدن چې په هر څه تغذیه کیږي په هماغه شي یې تغذیه کړي، عقل چې په څه شي تغذیه کیږي په هماغه شي یې تغذیه کړي همداسې وجدان او روح هم او څرنگه چې د ژوندانه په هر ډگر کې منځومانه لار (اعتدال) خوښول د اسلام شعار دي نو په دې اړه هم همدې اصل ته احترام لازمي بولي « الذین اذا انفقوا لم یسرفوا... » یعني:« او بنده گان د رحمن هغه کسان دي چې کله مال لگوي نو نه اسراف کوي او نه تنگي کوي او وي په دې مینځ کې منځومانه حاله » الفرقان ٦۷

کله چې له مادي غذا پرته ریاضت او تمرین جسم، عبادت اروا، علم او زده کړه عقل تغذیه کوي نو

په اسلام کې د ښکلا خوښتونې احساس

فن او ښکلا هم وجدان او ضمیر تغذیه کوي. خو هغه فن نه چې انسان له اخلاقي انحطاط (لحوړتیا) او ابتذال سره مخ کوي بلکه هغه فن چې انسان اخلاقي پوړیو ته لوړوي.

اسلام مونږ په دې پوهوي او په تحت الشعور کې مو دا تنبیه ځایوي چې په دې کائنات کې دوه عنصره ځای په ځای شویدي چې له دغې دواړو عنصرونو گټه اخستل روا دي، چې هغه یو د گټې عنصر او بل هم د ښکلا عنصر دي او کله چې د فن (ارت) اروا د ښکلا احساس او تخکل دي نو لکه د مخه مو چې وویل دا هغه څه دي چې قرآن عظیم الشان تر هر چا ډیر د انسان پام واړولی دي ډیر ځله یې پرې تاکید کړیدي او په ډیر تائید سره یې زمونږ سترگې هغې ښکلا ته واړولي دي چې اللهءج» په دې تخلیق کې د مادي گټې تر څنگ پیدا کړیده. **اللهءج» چې کله مونږ ته د حیواناتو پیدا کول په مونږ د احسان په ډول یادوي نو فرمایي : « والانعام خلقها لکم فیها ... » یعني :« او چارپایان یې پیدا کړیدي دغه تاسي ته چې شته په دوي کې اسباب د ځان ساتلو او (نورې) گټې اوله ځینو دغو څخه خوري تاسي » النحل٥**

نو په دې ایت کې د چارپایانو نه د نفقې او گټې خواته اشاره وه چې د انسان د بدن مادي اړتیاوي

قاضي محمد حسن«حقیار»- دوهمه برخه

پوره کوي خو وروسته سمدستي معنوي گټې او ښکلا ته هم اشاره ده « و لکم فیها جمال حین ... » یعني :« او شته تاسي ته په دغو کې ښکلا (زیب او زینت) کله چې بیرته یې کورته راولی د راحت لپاره او کله چې بهر ته یې د څر لپاره بیایې » النحل١٦

یورتني ایت د حیواناتو ښکلا نیز **اړخ روښانه کوي هغه ښکلا چې متان ذات «ج» په خپل مبارك لاس ترسیم کړیده .**

همدا راز فرمایي «الخیل والبغال و الحمیر ... » یعني:« او (پیدا کړي دي اللهءج ») اسونه او کچر او خره لپاره ددي چې سوریږي تاسي په دوي باندې او (**زینت کوي په دغو) په زینت کولو سره » النحل ۸**

پهږ ي ایت کې هم په دې حیواناتو سپربدل مادي گټه او زینت فنی ښکلا تیزه پدیده ښیي.

همدا راز « هوالذي سخر البحر ...» یعني :« او الله «ج» هغه دي چې مسخر کړي یې دي بحر لپاره ددې چې وخورئ له دې بحره تازه غوښه او را وباسي تاسي له دې بحره گانه چې اغوندي یې تاسي » النحل ١٤

دلته اللهءج» د سمندر گټه یوازې په تازه غوښې پورې خاص نه کړله چې تنها جسم ترې گټه واخلي بلکه گانه یې هم ورسره یو ځای یاده کړله چې جسم پرې ښکلی شي، سترگې او زړه ترې خوند واخلي او دا قرآني توجیه ډیر ځله راغلي ده په یو بل ځای کې د کرنې، خرما او انگورو له یادولو وروسته فرمایي :« انظروا إلی ثمره اذا » یعني « وگورئ تاسي طرف د میوې د هرې ونې ته کله چې میوه ونیسي او پوخوالي د هغې ته » الانعام ۹۹

نو لکه څرنگه چې جسم د میوو خوړلو ته اړ دي همدا ډول یې سترگې په کتلو خوند اخستلو ته اړې دي.

« یا بني ادم خذوا ... » یعني :« اي زامنو د ادم «ع» واخلي تاسي زینت (ښایست) خپل په وخت د هر لمانځه (په اغوستلو د ښکلو او **پاکو جامو سره)» بیا فرمایي « و کلوا و اشربوا ولا تسرفوا» یعني :« او خوري او څښئ او اسراف مه کوي » الاعراف ۳۱**

نو له دې آیت نه په داگه څرگندیږي چې څه ډول چې خوراك او څښاك د جسم ضرورت دي همدا راز زینت او ښکلا د وجدان اړتیاد « او دواړه مطلوب دي نو په دې سره دا دعوه رد شوه چې د انسان یوازیني غوښتنه خیټه ده .

پاتې لري

پخې او تیرې

څنکیدلي

د رادیو گانو ښې ډیرې څپې او د ورځپاڼو بلا کرښې له ډیرې مودې راهیسې په دې خبرو ډکې او ستړې دي چې یلتسن غریبگوټکي نن زکام یا والگي لاندې کړي او یا دا چې سکاروي یا سینه بغل یې له صحته سره زیاتي کړي. یا دا چې په هغه او دغه میلمستیا کې دې حد ته نشه و چې که د اړخونو او ووې نه یې پلان سکرټري نه واې راتم کړي په ککرې لگیده .

دا خو ها د چا خبره دده شخصیات دي او د هغو سره زمونږ څه کار نشته . او همداسې که دې د لیونتوب جذبه لاندې کوي او «پارلمان» خوارکي تر ستوني نیسي او ژبه یې نیم گزیري ځړوي او یا هم « اصلاح غوښتونکي» او د هغو له ضد کړیو لکه ژیرینو فسکي غوندي زاړه پالو او نورو ډلگیو نه د رز جگوي او څنډي یې موږ یې نه ملامتوو او پرې غم غرض نه لرو .

مطلب دا دي چې په دې لنډو شپو ورځو کې دي بیا د خپلې روغتیا خیال نه ساتي او داکتران هم اوس ده ته د استراحت او تفریح سپارښتنه نه کوي. ددغه معتاد او روږدي الکویست مشر سره چې څو ځو ځله د ډاکټرانو له خوا «ایلفي» شوي دده خپل سیوري هم پام کوي، د روسانو خو له وسه ورته تیره ده

پر دغو ټکو مو د روسانو او روسیې ټولواك سره کار نشته « عاصي پوه شه او دوزخ » او که دې کله نا کله له کینې اړخه راپورته کیږي او په یبولالو سرې سریداله کوي موږ څه نه وایو، ځکه دې خو د زړه ناروغي لري او د سکتې ډار یې شته .

روسان په دې ښه پوهیږي چې بیا به د پخوانې امپراتورۍ خوند له هیڅ شي نه وانخلي. هغه پنځلس جمهوریته چې روسانو هغوي ته یوازې د هیوادونو اسکلیتونه وروسپارل د یلتسن خوارکي په اوتو بوتو سرنه خوږوي، خو یو نیم یې

لا اوس هم دده له ټوخي سره مري ددغه رنگي امپراتوري هغه ملکونه چې پخوا هم لړ او ډیر سپین سترگي وو اوس ایله دومره شوي چې سا وکاږي.

د امپراتورۍ په پخوانۍ قلمرو کې کله نا کله یلتسن لکه ښامار پښیږي خو د پښیدو له زوره یې یوازې د تاجکستان د کمونستو واکمنو پښې گرېږي او نورو دې معاف کړي . نن سبا د کوسوو او څه موده د مخې د عراق او امریکا تر منځ په تاو تریخوالي کې هم یو وار روسي شاه زلمي را برگ شو، خو بیا چې یې کوم ناڅوانه ساقي په خوله کې یو غړپ ور وڅښول دي یې په کرار کړو .

دا تښتیدلي ... اوس هم کله نا کله د ساړه جنگ شپې په سر را اړوي او بدماشي ته ملا ترې خو هغه د ورځپاڼو او تلویزیون تر تصویرونو پورې محدوده پاتې کیږي . بیا دا د زړه عقده په مباشت، دوه میاشتو کې په لومړي وزیر، د کورنیو چارو او دفاع په وزیر او سکرتر باندې را پریوځي او له دندو یې پښې ور سپکوي او لاس یې اخلي.

اوس ، اوس چې روسیه د لوې اقتصادي بحران په جال کې ښکیل ده، انقلاسیون یې اقتصاد له ژبې را ځړولي او یلتسن تر غوږونو پورې د نړیوال بانك پوروړی دي لا هم ځیني روسان همدغه مشر غنیمت بولي. دوي دا استدلال کوي چې که یې دا زوی مړي له گوتو ووت نو انقلاسیون د مافیا لوې لاس او کورنۍ تاو تریخوالي ته څوك اوره ورکوي او داسې لیونې

په بیا له کومه کوي.

گرانه لوستونکیه!

له لیونو څه گیله . د یلتسن خو میرات عادت دي یوه نا پرېښه سرې ته وراوروي او باور دي وشه پیشوگاني په ځان پورې خندوي، ته مې سر بداله کړي.

له هغې ورځې راهیسې چې د کرملین پخواني مشر گرباچف د واك له گدې لیږدلی او یلتسن پر دې گدې لمانځل شوي، نو روسان خواران بیا په نس سم نه دې ماړه شوي، او په غلمینه یې ټیغ نه دې ختلي، مزې او چرچې خو دې په ځای پاتې وي « چې کوږ پاستې نشي پخولاي د باندې شا پاستې به لیونې ترې غواړي» .

تیره ورځ مې په شریعت اوونیزه کې د سهار ورځپاڼې له ټوله په غټه سرخې دا خبر ولوست چې آمر صیب مسعود غواړي د اوه زرو کورنیو له پاره د روسیې ، هندوستان او فرانسې په مالي لگښت د تاجکستان د کولاب په ښارگوټي کې لکه د تاج محل غوندې سوتره، کرملین غوندې مهین او د پاریس غوندې ولې او پریولې اپارتمانونه او بلډینگونه جوړ کړي .

وایي مرض ساري دي د یلتسن خوارکي په ناروغي ، هندي (راجا) او فرانسوي (لویې) هم اخته شو. بلا دې وریسي وي خو په آمر صیب مې خوابده ده چې د یلتسن لیونې مرض لاندې کړي .

امر صیب چې اوس په چتاقې کې استاد دې ښه پوهیږي چې د یلتسن لیونې نه څه نه جوړیږي ،

په ٢٤ ساعته کې که نیم ساعت په سد وي نور یې سده گرځي او نه یې ډیروي.

خو دا یوه ده د لوریبنې واوري چې امر صیب دې هغه بلډینگونه چې یلتسن د بدمستي په حال کې د میو په جام کې خیالي لیدلي، په کولاب کې نه بلکې د افغانستان دننه د پنجشیر په ولسوالي کې جوړ او ودان کړي او افغاني کورنۍ دې د روسانو ځپیړو ته نه مخامخ کوي هسې خو په ده تیره ده، دومره به شي چې دده د لاس یوه نښه خوبه پاتې ، وي بل دا چې آمر صیب دې دا مرستې ژر تر ژره له یلتسن څخه گورت ته کړي، ځکه د هغه د ژوندانه د ځلي په نړیدو کې څه ندې پاتې او که د امر صیب نور حریفان د هغه د متحدې جبهې غړي قدرت تر لاسه کړي بیا یې له ده سره نه مني.

ورځه د یلتسن سره که ژوند یو پنځه ورځې یاري هم وکړي، نو آمر صیب ته خو د خپل یادار نازك مزاجي مالومه ده چې پارلمان د ورځې شپږ واره سره له کابینې او خپلو گوډاگیانو تر اوبو باسي او نښتځي. داسې نه چې آمر صیب په نښتیځلو کې ضایع شي نو بیا به دده ولگي یتیم شي او مرستې به یې له گوتو وځي.

که چیرې آمر صیب دا فرضي پروژه عملي کړای شي نو ښه به دا وي چې د یوې سبرې له پاره پوستین اورته ونه غوړځوي ماڼا دا چې د کورنۍ د یو غړي په خاطر چې دده په رکاب کې دې ټوله کورنۍ نه کړواله کوي، او که یې مطلب دا وي چې پښې سپکې کړي بیا دې د ۷۰۰۰ کورنیو ډنډوري نه وهي، سپك او غلې دې غوږونه « کیداي شي یو غوړیوي» وباسي . هغو ۷۰۰۰ ؟ کورنیو ته زمونږ سلا دا ده چې داسې دې په مفته آمر صیب ته نیوي نه ورکوي او ځانونه دې نه یرغمل کوي.

لیکوال څه کولی شي ؟

نعمان دوست

هر څه کولی شي = هیڅ نه شي کولی

که څه هم د پورته پوښتنې په هکله ځوابونه د یو بل پر ضد دي ولي بیا هم د دواړو له ربښتنولي ځخه ځوك سترګي نشي پټوي. دا خبره خوله په خوله ګرځي چي لیکوال د ټولني نماینده او ترجماني نو که چیري په ربښتیا سره ټولنه خپل واګي د لیکوال قلم ته وسپاري او د خپلو جذباتو بیان ته د هغه ژبه غوره کړي او خپل هر ډول ملاتړ ورسره اعلان کړي نو په دغه صورت کي لیکوال هر څه کوي شي او باید وي کړي خو که چیري بوه ټولنه د لیکوال په ارزښت پوه نه شي ملاتړ بي ونه کړي نو په دغه حالت کي هغه بیچاره ته هم په براخي ځان څه کول اسانه نه ښکاري. دغه شان ټولني د دوه لاملو له کبله په لیکوال وبسا نه کوي :

د خپلي ناپوهي له مخي

د خپلو ترخو تجربو له مخي

د اولي کټګوري خلك خو معاف دي ځکه په انسان هغه وخت قضاوت کیږي چي د تمیز قوه ولري او چي نه بي لري نو ګیله تري هم نه ده په کار . ولي د دویمي ډلي په هکله غور په کار دي.

زموږ ګران هیواد ته په دوه دوه نیمو لسیزو کي د هر ډول فکر ځښتنان راغلل او د ډیر کم وخت تیرولو نه وروسته بیرته یا په ژوند او یا په مړینه لاړل خو په دغه کم مهال کي زموږ بو شمیر لیکوالانو د خپلي ټولني سمه ترجماني ونه کړه پرته له دي چي د قوم په روان پوه شي د هغوي غوښتني او خپل راتلونکي مسولیت درك کړي په ډیري وارخطایي د خپلو شخصي ګټو لپاره قلمونه پورته کړل خپل ولس بي هیر کړ هر څه چي په خوله راغلل صرفه بي ونه کړه او په دي کي خو لا ځیني داسي حساس او د وخت په قدر پوه لیکونکي هم وو چي لا به بي د هغه د صفت اول قسط پوره نه و خپور شوي چي په تګ سره به بیا ورته سپکي سپوري شروع کړي.

خو دوي هم ګرم نه دي ملامته خو د افغانستان ځوکي ده چي هیڅا بي پوره دمه ونکړه او حتي د یو کم عمر لیکوال په مخ کي ځو واکمن تیر شول. خو دغه قناعت به قوم او ټولني ته ځوك ورکړي او په دي بدګماني کي خو غټه غمازي کلکسیونه کوي هغوي بیچارګانو چي هر څه ویلي دوي ساتلي اوس چي هر چاته د کوم لیکوال نوم واخلي لا د هغه نوم دي پوره کړي نه وي چي د سترګو په ارتیلو درته ووایي : بس بس هغه خو تر پرونه څه ویل او اوس ... که نه متي راشه کلکسیون وګوره!

ویونکي له خپلي وینا پښیمانه کړي نو که چیري لیکوال غواړي په ربښتیا هم د قوم ژبه او ترجمان شي په کار ده چي د هغوي روان پوره مطالعه کړي د هغوي غوښتني درك کړي او دخپلي سپیڅلي اسلامي عقیدي په چوکاټ کي د خپل ولس له ملاتړ نه پوره ګټه تر لاسه کړي او د هغوي ارمانونه پوره کړي په دغه صورت کي لیکوال هر څه دي او هر څه کوي شي او کنه نو انجام به بي د نورو په څیر وي .

ادیب ته

زه نه پوهیږم چي ته ادب ته په علم قایل یې او که په صنعت ؟ ته ادب حقیقت ګڼي او که تعبیر ؟ ادب د ادب د پاره غواړي او که په ادب سره د خلکو احساسات پاروي ؟

ته ! هو ! ته ووایه چي ادب رنګیني او جلوه ده او که نه د حقیقت روښانول، زما پوښتني د هغه ادیب ځخه نه دي چي هغه صرف په ادب نازیږي بلکه زه د هغه ادیب نه معلومات غواړم چي هغه په مطلب پوه وي، هدف ولري او د ادب ځخه مطلوبه استفاده کولی شي.

پنجرهٔ باز

قاري «قاسمي»

دل من پنجرهء بستهء خاموشي بود
که فقط در عمرم
یك نفر کرد ازین پنجرهء بسته عبور
شهسواري ز کمینګاه غرور
مخمل ګام همان عابر مغرور هنوز
روز و شب در دل این راه طنین انداز است
و بدین امید
که شبي بر ګردد
سالها شد که دګر پنجره هر شب باز است

مضر احتیاط

تا خو څه غوښتل مګر په تنه ژبه، تا څه ویل مګر په زړه کي دي پاتي شول، تا څه اوریدل مګر په مغشوش ډول، تا څه احساس کولو مګر باور دي پري نه درلود.

تا په ذائقه کي هم بي خوندي محسوسو له ځکه چي ستا افکارو ستا په حواسو تاثیر اچولي و او تاته چي کوم مهم مرض متوجه و هغه همدا چي مضر احتیاط دي کاوه .

ستا مرض سو داوه. مګر تا به ورځخه د پوهي تعبیر کولو ځکه عواقب دي ښه نه شو سنجولي او کله یو څه خوش بین او خوش باوره هم وي.

نو ته : هوا ته باید ځانته متوجه شي، د خدمت په لاره کي محتاط و نه اوسي او نه هم زیات خوش باوره ...

د شعر او ادب لړۍ

آګاهي

شبلي

ایکه پرسي چه کسانیم و چه سامان داریم
آنچه با هیچ تبیر زد بجهان آن داریم
مانه آنیم که دیهم سکندر طلبیم
مانه آنیم که اورنګ سلیمان داریم
ما نه آنیم که بر شیوهٔ ارباب حشم
روي وراهي بمه در دولت سلطان داریم
ما نه آنیم که با حاجب و دربان باشیم
مانه آنیم که بام و دروایوان داریم
خاکساران جهانیم و ز اسباب جهان
بوریائیست که در کلبه ي اخوان داریم
جز ني خامه و اوراق پریشان نبود
بیش و کم آنچه به پیدا و به پنهان داریم
ګاه ګاهي بسوي کلبهء ما باز خرام
تا ببیني که چه برګ و سرو سامان داریم
تر کباب بره وشهد و شکر مي جویي
ما همان پاره ي ناني به سر خوان داریم

ژیړي پاڼي

روښان «غفورزی»

زموږ د کلي او ماحول انسانان
مثال د هغو ژیړو پاڼو لري
چي ځوروليي وي د مني بادو
څه بي کسکر شي توي شي ورژیږي
څه لا هماغسي وي پټي په سپیرو لوڅو لغړو ښاخو
وي سانیولي ورخطا تروره
او هره خوا او تر او تر کاته کا
خو توپانونه تري تاویږي هر خوا
او هر توپان ورته د غم ځیږي
وي په مخو ورکړي
ترینه خندا مروړلي
ترینه موسکا مروړلي
خو دوي لا اوس هم په داسي حال کي چي د غم توپانو
د ځو لسیزو د ماتم توپانو
تري شتمني علم و کمال اخیستي
د نوي ژوند فکر او خیال اخیستي
خپلي سیني لکه د سپر نیولي
او په خپلو وچو سپیرو شونډو باندي
تل بوږ نونکي شان خیري کوي
داسي د غم او د ماتم سندره
د شونډو لاندي په ویرلي حالت
د هر غلیم په وړاندي داسي وایي چي :
لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان راباندي راشي که بهار

کوسوا د نړیوال ښکیلاک د دسیسو په درشل کي

مولوي عبدالغفار«هاشمي» - دوهمه برخه

په کال ۱۹۹۹ کي د کوسوایي مسلمانانو په ضد صربي جنایاتو ډیر شدت او زیاتوب وکړ چي د هغوي د همدي جنایاتو د مخ نوي په بهانه د امریکا په دستور د ناتو لخوا هوایي بریدونه پیل شول که څه هم دغه بریدونه په ظاهره د صربانو د ځپلو په منظور تر سره کیدل خو د پردي ترشا د مسلمانانو د نهایي تباهي لپاره ډیر نور اهداف لرل او هغه دا چي :۱- د اسلام دښمنانو خاصتاً امریکا غوښتل چي په کوسواکي له مسلمانانو څخه د دفاع په منظور د نړیوالو توجه له هغو مظالمو څخه راواړوي کوم چي په فلسطین ، لبنان او نوري نړي کي ریهودو او صلیبیانو لخوا په مسلمانانو باندي تر سره کیږي .

۲- هغوي غوښتل چي پدي کار سره د هغو مسلمانانو د ورتګ مخنیوي وکړي کوم چي د کوسوایي مسلمانانو ملاتړ ته له نوري نړي څخه ورځي لکه چي افغانستان چیچنیا، کشمیر او بوسنیا ته د هغه ځاي د مسلمانانو ملاتړ ته ورغلي و .

۳- هغوي غوښتل چي د خپلو هوایي برغلونو له ختمیدو وروسته په کوسوا کي د صربي استعمار په ځاي غربي استعمار ته زمینه برابره کړي لکه چي په ۱۹۹۱ کي د کویت د ازادي پنامه په ټول خلیج کي خپل ناولي استعمار ته زمینه برابره کړه

د هغوي اساسي هدف دا ؤ چي د نوري اروپا له زړه څخه اسلامي اقلیت په بشپړه توګه ورك کړي د همدي طرحي د عملي کولو لپاره بي له عین هغه تکتیك څخه کار واخیست کوم چي پنځه کاله پخوا ئي په بوسنیا کي د مسلمانانو د ورکولو لپاره عملي کړي و .

په بوسنیا کي وروسته له دي چي هغه بي په لسو ایالتو وویشله هلته بي د سولي پنامه صلیبي ځواکونه ځاي پر ځاي کړل چي ددي ځواکونو زیاته برخه بریطانوي عسکرو تشکیله وله دغو بریطانوي عسکرو ته د بریطانیا د لومړي وزیر جان میجر لخوا په یوه مخفي مکتوب کي چي وروسته بیا هغه د انګلستان د واکمن ګوند د مخالفینو لخوا افشا شو او په ټولو بریطانوي ورځپاڼو کي نشر شو . داسي هدایت ورکړي شوي ؤ . اروپا فقط د مسیحانو امپراطوري ده هیڅ ځوك ددي حق نلري چي د همدي امپراطوري په زړه کي له مسیحیت نه سوا د کوم بل قانون او حکومت پیروي وکړي .

هغه په خپل دي مکتوب کي پدي خبره ټینګار کړي و چي باید ډیرکوشش وشي چي بوسنیا بي مسلمانان د هر قسم وسلي له لاس ته راوړلو څخه محروم شي که څه هم د نړیوالو له خوا په بوسنیا د وسلو بندیز لګیدلي و خود فاتیکان په مستقیم دستور مسیحي کرواتان او صربان د مسلمانانو په ضد په هر قسم وسلو مسلح کیدل .

دا ښکاره خبره ده چي اروپا اوس پدي لټه کي ده چي یوه واحده اداره ولري او ددي کار لپاره بي ډیر مقدماتي کارونه لکه د یوي سکي (یورو) جوړول، د څینو جغرافیایي حدودو له منځه وړل د اقتصادي علایقو ټینګول او داسي نور .

که څه هم د اروپا رسمي مذهب مسحیت دي خو اکثره اوسیدونکي بي د کاتولیکي مکتب پیروان دي او د هغه تر څنګ بیا نوري مسیحي ډلي لکه پر وستانت او ارتودوکس هم شته دي چي هر یوي بیلا بیلي نظریي او فکرونه لري چي دغه د افکارو اختلاف بي د ارو پاله یوالي سره اړخ نه لګوي مګر بیا هم په هغوي باندي او د هغوي په افکار او نظریو باندي هیڅ کوم بندیز نشته . فقط اسلامي اقلیت هلته د اروپایانو له نظره د یوي واحدي اروپا د یووالي لپاره خطر بلل کیداي شي نو له همدي جهته د اروپائیانو او د هغوي د همعقیده ملګرو غربیانو دا هڅه او **تلاش دي چي** دغه اسلامي اقلیت بیخي د اروپا له زړه څخه ورك کړي .

د اسلام مکار صلیبي دښمنان خپل ټول امکانات پکار اچوي تر څو خپلو شومو اهدافو ته ځان ورسوي.

خو الهي اراده بیا بل شاني ده ډیر ځله ډیر مستکبر قوتونه د ډیرو مستضعفو ولسو لخوا د نابودي او نستي کندي ته وغورځول شي انشاء لله هغه وخت لري ندي چي اروپا به همداشاني په مکمله توګه د اسلام د مقدس دین تر حاکمیت لاندي راشي او د رسول اکرم «ص» هغه بشارت په بنا چي الهي لښکري به روم ته چي د صلیب پلازمینه بلبل کیږي [illegible] فاتحانه توګه داخلیږي لکه چي قسطنطنیي ته داخلي شولي خو البته د کار به هلته تر سره کیږي چي د [illegible] مسلمانان ټول په الهي رسي [illegible] اوسي او د هغه په لاره کي [illegible] نظام د انفاذ په منظور برحق [illegible] ورکړي.

د کابل د طب انستیتوت ځلور پوهنځي... '

سناتوریم روغتون، سنایي روغتون، میوند روغتون او اتاترك په نامه روغتونونه لري.

د کابل طب انستیتوت عمومي ریاست په لاندي مختلفو برخو کي شاګردان روزي. : الف معالجوي طب، طب اطفال، ستوماتولوژي یا د غاښو طب او نظامي طب . البته د طب انستیتوت فارغین د لیسانس په سویه ټولني ته وړاندي کیږي . محترم مولوي صاحب د طب انستیتوت د تعلیمي نصاب په هکله دارنګه وویل : ځرنګه چي د کابل طب انستیتوت د تأسیس له وخته تر اوسه پوري د دنیا د مشهورو پوهنتونونو سره تواملیتونه (روابط) لري په هغه اساس بي تعلیمي نصاب عیار شوي دي خو د محصلینو علمي سطحه هغه وخت لا زیاته شوه چي د کابل له فتحي وروسته په هغه یو لړ کارونو لکه سینما تلویزیون مخلوط نظام تعلیم او غربي ثقافت بندیزو لګید. چي جامعه بي پر جهالت بر سیره د هلاکت کندي ته غورځوله .

او د عالیقدر امیر المؤمنین په خصوصي فرمان د هر پوهنځي په سر ځلور ځلور جید علما مقرر شول تر ځو محصلین له اسلامي ثقافت برسیره له اسلامي علومو سره هم بشپړه اشنایي پیدا کړي .

او زموږ ددي خبري چي د محصلینو په علمي سویه کي پر مختګ راغلي یو عمده ثبوت د امریکي هغه پلاوي دي چي څه موده وړاندي بي محصلینو ته د معدي د زغم په هکله عمومي لکچر ورکړ او په عین حال کي بي له محصلینو څخه یو لړ پوښتني مطرح کړي هغوي ورته په خورا جرأت سره د قناعت وړ ځوابونه ورکړل. او هغوي په ډیر تحیر سره یا وجود ددي چي زموږ هیواد د وروستیو جګړو له امله ویجاړ شوي او د انستیتوت لابراتوارونه هم وران ویجاړ شوي دي بیا هم د محصلینو تعلیمي سطحه اوچته وبلله .او عین دا مطلب داکتر خوشحال چي په امریکا کي د افغاني داکترانو د اتحادیي مسؤل او هم ددي هیأت مهم غړي ؤ امریکا غونډه هم ځرګندکړ .باید واوایم چي فعلاً په انستیتوت کي ۱۰۰ تنه استادان پر مختلفو برخو کي په تدریس بوخت دي چي د هغوي له جملي نه ۲۰ تنه د پروفیسرانو او د پروفیسرانو د مرستیالانو په حیث خدمت کوي. د کابل طب انستیتوت زیات ضرورتونه لري چي ډیر اهم بي د لابراتوارونو فعالیدل او د خارج نه مسلکي استادان جلبول دي. او په داخل کي تدریسي روغتونونه احیا کول او نور درسي مواد تهیه کول دي. د خارج نه د مسلکي استادانو جلبولو او درسي موادو تهیه کولو په هکله باید ووایم چي د تحصیلات عالي محترم وزیر تیر کال امریکا ته سفر وکړ چي په نتیجه کي له نوموړي پوهنتون سره ځني توأمیتونه لاسلیك شول امید لرو چي پدي سره به تر څه حده [illegible] مشکل حل شي. او اسلامي امارت [illegible] خاصه توجه زموږ د تعمیراتو د [illegible] په باب ځني کارونه شروع کړیدي اللهم [illegible] لاس په دعا یو چي زموږ شرعي مشکلات [illegible] خپل رحم او کرم سره پوره کړي او موږ ته [illegible] توفیق راکړي چي ددي وران ویجاړ هیواد خدمت وکړو.

هره میاشت ۲۵۰۰ مهاجرو او ۸۰۰ د کابل ښار ...

اساس د یوه وزارت په چوکاټ کي راوستل شول او د شهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت په نامه ونومول شو چي یوولس ریاستونه، په ولایتونو کي نماینده ګي په زونونو کي میلمستونونه او د پروژو مدیریتونه لري همدارنګه په پاکستان کي نماینده ګي هم لرو او په مرکز کي ملو د مامورینو شمیر ۲۰۰۰ تنو ته رسیږي .

پوښتنه : د تیر کال په ترڅ کي مو څه کارونه سرته رسولي دي ؟

ځواب : څرنګه چي زموږ وزارت د شهیدانو له ورثې سره چي کونډي او یتیمان دي، د جهاد له معیوبینو او مهاجرینو سره سرو کار لري او د تیرو فاسدو رژیمونو د کړو وړو له کبله مو د هیواد اقتصادي منابع هم تخریب شوي له دي سره سره بیا هم اسلامي امارت د خپل مسؤولیت او شفقت په اساس له دي دریو قشرونو سره خپلي مرستي جاري ساتلي دي په تیر کال کي موږ د داخلي مهاجرینو لپاره په دشت برچي کي یو کمپ پرانیست په هغه کي ۲۵۰۰ کورنی ځاي پر ځاي شوي هغوي ته مو خیمي ورکړي او هره میاشت خوراکي مواد لکه غنم، وریجي، غوړي دال بوره، کمپلي او نور ضروري شیان هم وربانډي ویشو همدارنګه د کابل ښار ۸۰۰ مستحقو کورنیو ته هم هره میاشت غذایي مواد ورکوو .

پوښتنه : د شهیدانو له ورثې سره څه مرستي کوي او د هغو د سرپرستي لپاره څه اقدامات په نظر کي لري ؟

ځواب : د شهیدانو او معلولینو او د هغوي د ورثه و لپاره په تیر کال کي د امیر المؤمنین د ترحم او فرمان له مخي د هیواد د ټولو ولایاتو د مرکز په شمول د عشر او زکوة دریمه حصه نقد او جنس د نوموړي وزارت په اختیار کي ورکړي چي البته مستحقینو ته د خپل حق او حقوقو رسیدلو په خاطر یو قانون او مقرره جوړه کړي شوي چي د منظوري او توشیح په خاطر مربوطه مرجع ته سپارلي شوي چي د توشیح سره سم به بي ډیر ژر د حقوقو ورکولو کار پیل شي او د کارتونو جوړولو کارونه په مرکز او ولایاتو کي په چټکي سره روان دي چي ریاست تشبیت و تأمین حقوق په دي هکله شپه او ورځ هلي ځلي کوي.

پوښتنه : له معیوبینو سره مو څه مرستي کړیدي او د آینده لپاره بي څه پروګرام لري ؟

ځواب : هغه معلولین او معیوبین چي د کسب او کار وس نلري له هغوي سره څه نا څه غیر مداوم کمك کیږي خو هغوي ته د ښه سهولت په خاطر مو له بعضي خارجي موسسو سره رابطه نیولي چي یو له هغو څخه د شلټر انټر نشنل موسسه ده چي د امضأ شوي یو پروتوکول له مخي معلول او مشلول کسان زموږ له خوا هغوي ته معرفي کیږي او هغوي ورته بایسکل مهیا کوي چي په تیره اوني کي هم ورته ۷۰ بایسکل توزیع شول.

پوښتنه : هیواد ته له نویو راغلو مهاجرینو او د جګړو له سیمو څخه راغلو مهاجرینو سره څه مرستي کوي په دي هکله هم لنډ معلومات راکړي ؟

ځواب : هغه مهاجرین چي نوي وطن ته راځي هغه پروګرامونه چي موږ يي ورته په نظر کي لرو د بعضي اقتصادي مشکلاتو له وجهي نشو کولاي پوره عملي کړو چي عبارت د ترانسپورتي مسایل، روغتیایي او د مهمانخانو په ښه توګه فعالیدل او د مهاجرینو لپاره هستوګنځي ښونځي بیا جوړول او شاړو ځمکو اباد ول او نور د پام وړ ضروریات دي چي ورته اړتیا لري په دي هکله موږ د ملل متحد عالي کمشنري او نورو اړونده موسساتو سره په تماس کي یو چي فعلاً بواځي د UNHCR له خوا ورته هري کورني ته د راستنیدو په وخت کي ۵۰۰۰ کلداري نقدي پیسي او دري سوه کیلو غنم او یو ترپال ورکول کیږي او د ماین پاکي له موسسي سره د تړون له مخي هغه منطقي چي د ماین خطر پکي موجود وي پاکول .

پوښتنه : آیا ښه به نه وي چي معیوبینو او یا کسونهو ته د هغوي د توان او اهلیت مطابق د شریعت په چوکاټ کي حرفوي موسسي جوړي کړي تر څو هغوي خپل ځان ته پخپله روزي برابره کړي او د ملت له اوږو څخه بي بار کم شي ؟

ځواب : فعلاً د وزارت او په خاصه توګه د ریاست پلان له خوا په پلان کي لرو چي هغه معلولین او معیوبین بي وزله کونډي او یتیمان چي کولاي شي کار وکړي او خپل ژوند او معیشت او آینده لپاره خود کفا شي د اسلامي چوکاټ له مخي ورته څو پروژي په نظر کي لرو چي د بعضي پروژو مقدماتي کارونه مو پیل کړي لکه قالین بافي ، خیاطي، ګلدوزي ، بوټ دوزي، حجاري ، نجاري ، شیریني سازي، و غیره او په دي هکله مو له بعضي اړونده موسسو سره هم رابطه کړي او په تماس کي یو خو تر اوسه کوم پروتوکول نده لاسلیك شوي ځکه چي زموږ انکشافي بودجه ډیره کمه او کفایت نکوي.

په پاي کي موږ د ټولو اسلامي ملکونو او مسلمانانو څخه په خصوصي توګه او له بشر دوستو ادارو څخه په عامه توګه دا خواهش لرو چي له دي مظلوم ملت او له دي نوعه بي **وزله قشرونو سره د همیشه لپاره د اسلامي اخوت او بشردوستي په لحاظ له هیڅ نوعه کمك څخه دریغ ونکړي او خپلي مرستي او کمکونه له موږ سره د همیشه لپاره جاري وساتي.**

خروج نیرو های صربي از کوسووا جریان داره

وزارت دفاع ایالات متحده امریکا خروج نیرو هاي صربستان از کوسوا را طبق برنامه تعیین شده تصدیق کرد .

نطاق وزارت دفاع ایالات متحده امریکا در واشنگتن گفت: تا کنون پانزده هزار نفر از افراد نیرو هاي امنیتي صربستان از کوسووا خارج شده اند.

طبق تخمین وزارت دفاع ایالات متحده امریکا ارتش یوګوسلاویا تا کنون یك پنجم تانکها و حدود پانزده فیصد از توپ هاي فعال خود را از کوسووا خارج کرده است . در عین زمان پیشروي نیرو هاي حافظ صلح سریعتر از آنچه انتظار میرفت انجام شده است.

واحد هاي ارتش و پولیس یوګوسلاویا شهر پریزدین را که تحت نظارت سربازان المان است تقریباً بطور کامل تخلیه کرده اند.

دریافت چند قبر دسته جمعي در کوسووا .

سربازان آلماني و انګلیسي نیرو هاي بین المللي صلح در کوسووا پس از ورود به آن ایالت به چندین قبر دسته جمعي برخورد کرده اند.

طبق ګزارش یکي از مامورین سازمان ملل متحد در بروکسل سربازان ارتش آلمان در حوالي شهر پریزدین قبري را یافته اند که در آن هفتاد جسد دفن شده است .

سربازان انګلیسي در شهر کاسانچ نیز قبري را کشف کرده اند که در آن یکصد جسد دفن شده است .

ملاریا سالانه دو ملیون تن را از بین مي برد

به ګزارش سازمان صحي جهان همه ساله به تعداد دو ملیون نفر از اثر مبتلا شدن به مرض ملاریا تلف مي شوند کهٔ اکثراً آنها را اطفال تشکیل میدهند

سازمان صحي جهان در ګزارش خود خاطر نشان میسازد که در هر بیست ثانیه یك طفل در نتیجه مرض ملاریا زنده ګي خود را از دست میدهد .

اکنون یك هیأت دانشمندان عرصه طب هشدار داده است اك در مجادله علیه ملاریا اقدام عاجل صورت نګیرد این مرض احتمال دارد که در کشور هاي رو به انکشاف فاجعه هاي انساني الم ناکي را ببار آورد زیرا اکنون ادویه یي که جهت تداوي مرض ملاریا به کار برده میشود پرازیت ملاریا در مقابل آن مقاومت پیدا نموده است .

ایدز از بزرګترین فاجعه هاي قرن حاضر است

به ګفته یکي از مؤسسات سازمان ملل متحد ایدز یکي از بزرګترین فاجعه هاي قرن حاضر میباشد . یك مامور بخش پروګرام مبارزه با مرض ایدز ملل متحد در شروع هفتمین کنګره ایدز در شهر ابن آلمان ګفت ایدز یکي از چهار قاتل اصلي انسان ها است به ګفته شوارد اندس از آن جایي که مریضي هاي قلبي مهم ترین عامل مرګ و میر انسان ها است که در بین سالمندان وجود دارد مریضي ایدز بیشترین تعداد جوانان را همه ساله به کام مرګ مي کشد وي افزود بیش از سي و سه ملیون انسان در سراسر جهان به ویروس ایدز آلوده شده و یا اینکه مریضي در آن ها بروز کرده است.

سرکهاي بازار جاني ...

میدهد : به ادامه باز سازي و عمران مجدد شهر ها و دهات کشور اخیراً به اثر مساعي و تلاش هاي شاروالي ولسوالي جاني خیل ولایت پکتیکا به طول ده کیلو متر سرکهاي بازار آن ولسوالي ترمیم و جغله اندازي ګردیده است .

با ترمیم و جغله اندازي سرکهاي متذکره تسهیلات زیادي به مردم و جریان ترافیك به وجود آمده است .

همچنان یك باب کلینیك صحي در ولسوالي جاني خیل ایجاد و مورد استفاده اهالي آنولسوالي قرار ګرفته است .

سنګ تهداب کلینیك ...

حافظ عبدالرزاق ولسوال آن ولسوالي در حالیکه عده یي از متنفذین محل و نماینده ګان کمیته سویدن و وزارت صحت عامه حاضر بودند ګذاشته شد.

منقریب مراکز خدمات ...

اجتماعي در نواحي ١٦ ګانه شهر کابل صحبت و ګفتګو بعمل آورد که در زمینه محترم محمد داؤد الطاف مسؤول دفتر هیئات ابراز آماده ګي نمود تا عنقریب مراکز خدمات اجتماعي را در نواحي مختلف شهر کابل به همکاري ریاست عمومي کار و امور اجتماعي ایجاد خواهد کرد .

یکتن از ترینران ...

کشور و توجهات امارت اسلامي در این راستا صحبت نموده سند ماستر سپورت رشته بوکسینګ را که براي محترم استاد نظر محمد در نظر ګرفته شده بود توزیع نمود.

د هیواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو !

شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتني ، پالني، او روزني ټینګ او ډاډمن فرهنګي سنګر دي.

راځئ چي په خپلو قلمي لوړینو ، رغنده وړاندیزونو او پر ځاي ګوت نیونو د اوونیزي منځپانګه لا بډایه او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندي خپل مسؤولیت تر سره کړو .

اداره

حکم الهي قصاص ...

و تمیز ستره محکمه امارت اسلامي مبني بر قصاص وي صادر که بعد از تائید و توشیح عالیقدر امیر المؤمنین حکم الهي قصاص در محضر عام بالاي قاتل دیروز تطبیق ګردید.

در اجتماع که به همین مناسبت به اشتراك عده یي از مسؤولین امارتي و جمع کثیري از مردم در مرکز ولایت فراه تدویر ګردیده بود محترم مولوي نور احمد «احمدي» رئیس محکمه مرافعه ولایت فراه محترم ملا سید محمد آخند والي آنولایت و محترم مولوي محمد صادق خطیب مسجد جامع فراه در رابطه به اهمیت و ضرورت تطبیق احکام الهي و حدود شرعي و نتایج مثبت آن در جامعه و نظام اسلامي صحبت نموده و یګانه راه معقول و مؤثر را در امر جلوګیري از مفاسد اخلاقي و اجتماعي و جنایات در یك نظام و جامعه را تطبیق احکام الهي و حدود شرعي بالاي مرتکبین و مجرمین خواندند .

سرپرست محترم ...

استفاده از کارت نان تدابیري صورت ګیرد و نیز ګفته شده که در قسمت توزیع نان به مستحقین اصلي آن از سوي دفتر برنامه غذایي جهان و وزارت پلان تشریك مساعي بعمل آید در این ملاقات مسؤول دفتر پروګرام غذایي جهان از علاقمندي و حسن همکاري وزارت پلان اظهار خوشي نمود.

دستګاه مخابره ...

در محفلیکهٔ بهمین مناسبت دایر ګردیده بود محترم والي ولایت سرپل ضمن قدرداني از تلاش و اقدام نیك انجنیران متذکره اهداف نیك امارت اسلامي را در جهت فراهم آوري شرایط کار و بهبود وضع اجتماعي هموطنان توضیح و تشریح نمود.

با فعالیت دو باره دستګاه هاي متذکره ارتباط مخابروي ولایت سرپل و ولسوالي آنچه با سایر ولایات کشور تأمین و پرابلم مخابروي مرفوع ګردیده است .

پولیکلینیك ...

و ایجاد کلینیك هاي صحي از مساعدت و همکاري مالکین در ملتونهاي شهر پلخمري که در زمینه اعمار دو باره پولیکلینیك به خرج داده اند اظهار قدرداني نمود.

پولیکلینیك متذکره داراي کلینیك هاي حمایه طفل و مادر ، کلینیك دندان، داخله و اطفال و آشپزخانه مجهز میباشد در این محفل عده زیادي از مسؤولین ولایت بغلان و مالکین درملتونها شرکت ورزیده بودند.

ان شاء الله ډیر ژر ...

پروژي عملي کار په چټکتیا سره په مخ روان دي او ان شا ء الله ډیر ژر به د ګټي اخیستلو وړ وګرځي .

یو لرغوني اثر چي ...

نوموړي اثر د تیرولو په خاطر دوه لکه کلداري اجوره منل شوي وه قاچاق وړونکي له نیول شوي تابلو سره د زیاتو څیړنو په خاطر کابل ته راستول شوي دي.

در شهر جلال آباد ...

ملاریا پشه خانه هاي طبي به شهریان محترم شهر جلال آباد و ولسوالي هاي ولایت ننګرهار عرضه ګردیده است. همچنان در ولایات لغمان و کنر ها نیز سلسله توزیع و عرضه این نوع پشه خانه ها آغاز ګردیده است تا ګفته نباید ګذاشت که پشه خانه هاي قبلي و کهنه نیز توسط موظفین مربوطه دو باره دوا پاشي ګردیده و مورد استفاده و بهره برداري قرار داده میشود.

د ګړون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

مخالفینو ته د اسلامي امارت غیږه خلاصه ده

له کومي ورځي را په دي خوا چي د افغانستان اسلامي امارت په خپلو مخالفینو پوځي بر لاسي موندلي ده او د سیاسي ډګر تر څنګ یي په نظامي ډګر کي هم دوي په ګونډو کړیدي نو د خپلي زړه سواندي پالیسي له مخي یي مخالفینو ته غیږه خلاصه کړه او د انتقامي کاروایي په ځاي یي دوي ته عمومي عفوه اعلان کړه د اسلامي امارت د مقام د عفوي د فرمان په متن کي راغلي دي چي د اسلامي امارت هر مخالف چي په حق او حقیقت پوه شي او له اسلامي امارت سره د مقابلي نه لاس واخلي نو د هغه سر ، مال او شتمني ټوله مصؤنه ده او په دي کار سره به یي خپل ملي او اسلامي رسالت هم پوره کړي وي. د همدي فرمان په اساس په زرګونو ته وسله وال د مخالفینو له لیکي جدا او د اسلامي امارت تر بیرغ لاندي ودریدل او اسلامي امارت هم ورته دو رو په سترګه کتلي دي همدا راز اسلامي امارت د خپلي زړه سواندي همیشني پالیسي له مخي هر وخت له هر ډول معاوضي او تبادلي پرته یي د مخالفینو اسیران خوشي کړیدي چي دا په خپله داسلامي امارت د پراخي غیږي او پراخي حوصلي څرګندوي دي دا ځل یي چي کوم اسیران خوشي کړیدي نو دا اکثره د فاریاب د ولایت دي چي د فاریاب د ولایت په مربوطاتو کي د اسلامي امارت له پوځیانو سره په مخامخ نښتو کي نیول شوي وو او تیره ورځ د کندهار په ولایت کي د فاریاب د علماو د هغه هیئت په درناوي کي خوشي شویدي چي د امارت د درانه او محترم مقام لیدلو ته ورغلي وو د اسلامي امارت د مقام لخوا د علماو وفدو ته د بندیانو **سپارل ددي معني ورکوي چي اسلامي امارت هیوادوالو او په ځانګړي ډول علماو ته په ډیره درنه سترګه ګوري، نو څرنګه چي امارت علما و ته په درنه سترګه ګوري .**

همدا راز په بامیانو کي د څلور سوه وسله والو کسانو تسلیمي یو ځل بیا دا حقیقت جوت کړ چي داسلامي امارت رغنده دریځ سوله ایز دي، هغه له چا سره د مخاصمت او دښمني له لاري چلند نه کوي بلکه ټول افغان مسلمان ولس ته د قدر په سترګه ګوري او د ورورۍ او صمیمیت تخم په کي کرل غواړي نو داسلامي امارت مخالفینو ته په کار ده چي داسلامي امارت دي نیکو اقداماتو ته په درنه سترګه وګوري او په خپلي بدرګي سره له دي طلایي چانس نه ګټه واخلي که دوي له اسلامي او مرکزي حکومت سره یو ځاي شي نو طبیعي ده چي د نورو تسلیم شویو کسانو په څیر به د دوي سر او مال هم خوندي وي په خپل وطن کي به ازاد ګرځي ، ازاد ژوند به کوي مال او شتمني ته به یي په درنه سترګه کتلي شي له تکلیفونو او ستونزو نه به خلاص وي دوي باید لږ له تعقل او تدبر نه کار **واخلي او لږ سوچ وکړي چي دوي د کوم هدف لپاره استعمالیږي ؟ ولي د دوي وینې توئیږي، ولي یي د غلامي او ذلت ژوند ته غاړه ایښي ده ؟ ولي د یو خود خواه بوالهوس او بي ځایه مغرور شخص د هوس ښکار شي او په خپل برخلیك او د خپل اولاد په برخلیك لوبي وکړي . دوي باید دا درك کړي چي د یو داسي نظام په وړاندي چي پنځه نوي فیصده خاوره تر کنترول لاندي لري او ولس یي سل په سلو کي تر شا ولاړ دي جنګیدل او مقاومت څومره ناپوهي او بي مفهومه کار دي دا سبب ده چي یو څو ورځي به یي د هغه بادار چي په حقیقت کي تر ستوني پوري د بل چا غلام دي ژوند ته دوام ورکړي وي خو باید په دي پوه شي چي د هري شیبي په تیریدلو سره دوي ته نوي ستونزي زیږیږي او د ولس قهر او غصه د دوي په وړاندي زیاتیږي او دا تاریخ ثابته کړي خبر ده چي د ملت او ولس سره د مقابلي خیال هسي د لیونیو فکر او خام سوچ دي او هر چا چي دي کارته ملاتړلي ده نو تاریخي رسوایي یي په برخه شویده .**

د مخالفینو په لیکو کي ولاړ کسان باید د ملیشو او مفسدینو د نورو هغو ډلو له افرادونه عبرت واخلي چي د اسلامي امارت سره په مقابله کي په ګونډو شویدي چي مشران او امران یي چیرته دي ؟ په کومو هیوادونو کي په څه ډول عیاشیو اخته دي او دوي له څه ډول شوم او ناوړه برخلیك سره مخ شویدي. نو دوي دي ولي د هغوي د هوس لپاره ځان قرباني کړي په پاي کي یو ځل بیا دا خبره حتمي ګڼو چي که د اسلامي امارت مخالفین له اسلامي امارت سره یو ځاي شي نو په دي کي یي دنیوي او اخروي ګټي نغښتي دي او ژوند به یي هم مطمئن وي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Feshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press